Department for Education

# په انګلستان کې افغان مېلمانه. په انګلستان کې د ښوونځي د ځای موندنې په اړه معلومات کله چې دوی د هوټل یا خدمت شوي استوګنځي د پرېښودو وروسته بل چیرته ځای په ځای کیږي.


مقدمه ........ 2
لومړۍ برخه: کله چې تاسې هوټل یا خدمت شوي استوګنځي پرېږدئ، د خپلو ماشومانو لپاره د نوي ښوونځي ځای موندنه ........ 3
دویمه برخه: د ښوونځي د ځای موندل کله چې ستاسو ماشومان د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه ۴ یا ۱۱ کلن وي ........ 4
دریمه برخه: په ښوونځي کې د شاملیدو په اړه عمومي معلومات ........ 5
ماشومانو ته د ښوونځي ځایونه څنګه ټاکل کیږي ........ 5
هغه معلومات چې د شمولیت چارواکي یې کیدای شي د ښوونځي د ځای د ورکولو په اړه وغواړي ........ 5
کله چې تاسو ته ستاسو د خوښې په ښوونځي کې ځای نه ورکړل شي تاسو به څه وکړئ ........ 6
د ښوونځي غوره کول ........ 6
د شپږم فورم ځای لپاره درخواست ورکول ........ 7
د دولت لخوا د تمویل شوي ښوونځیو ډولونه ........ 7
د ښوونځي د شاملیدو چارواکي ........ 8

## مقدمه

تاسو به معلومات ترلاسه کړي وي، یا به یې ډېر ژر ترلاسه کړئ چې باید خپل هوټل یا خدمت شوي استوګنې په راتلونکو میاشتو کې تخلیه کړئ.

که تاسو ماشومان لرئ چې عمرونه یې له ۴ څخه تر ۱۶ پورې وي نو احتمال لري چې دوی دمخه ښوونځي ته ځي چیرې چې تاسو اوس اوسئ. کله چې تاسو هوټل یا خدمت شوي استوګنځي پریږدئ نو په هغه سیمه کې به پاتې شئ چیرته چې تاسې پخپله خپل استوګنځئ ومومئ یا به بلې سیمې ته د کار او استوګنې د موندلو لپاره ولاړ شئ.

کله چې تاسې بل کور ته ځئ د دې اړتیا نلرئ چې خپل ماشومان د دوی د اوسني ښوونځي څخه وباسئ، خو که تاسې د هغه سیمې څخه چې اوس اوسئ ځای بدل کړئ، ممکن دا کار ستاسو د ماشومانو لپاره عملي نه وي چې خپل ښوونځي ته دوام ورکړي. په داسې حالاتو کې، تاسې باید به د خپلو ماشومانو لپاره د نوي ښوونځي په لټه کې شئ.

لاندې مشوره تاسو ته دا تشریح کوي چې څنګه د نوي ښوونځي لپاره غوښتنه وکړئ او د څه شي په اړه فکر کولو ته اړتیا لرئ. دا په دریو برخو ویشل کیږي:

- لومړئ برخه – دا تر ۱۶ کلنۍ پورې د ټولو ماشومانو لپاره ده
- دویمه برخه – دا د هغو ماشومانو لپاره ده چې د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په لومړۍ نیټه به ۴ یا ۱۱ کلن[1] وي؛
- دریمه برخه – دا د ښوونځي د ځای موندنې په اړه نور عمومي معلومات لري.

که ستاسو ماشوم اوس په ښوونځي کې وي او ستاسو د استوګنې په بدلولو سره دیته اړتیا ولري چې نوي ښوونځي ته لاړ شئ، لومړۍ برخه ستاسو لپاره خورا اړونده ده.

[1] د خپلې شورا سره اړیکه ونیسې او د هغه سیمې په اړه چې تاسې ورځئ معلومات په لاس راوړئ. که څه هم د لیږد تر ټولو عام عمرونه ۴ او ۱۱ دي یو لړ شمیر ښوونځي د ۷، ۹، ۱۲، ۱۳ یا ۱۴ په عمرونو کې د شاملیدو ځایونه لري. شورا به په نورمال ډول ستاسې غوښتنلیک هلته چې دوی یې اجراکوي، پروسس کړي.

## لومړۍ برخه: کله چې تاسې هوټل یا خدمت شوي استوګنځي پرېږدئ، د خپلو ماشومانو لپاره د نوي ښوونځي ځای موندنه

که ستاسې ماشوم اوس مهال په ښوونځي کې وي او تاسې د هوټل یا خدمت شوي استوګنځي څخه د وتلو په وخت کې د خپلې سیمې څخه لیرې شئ، باید ژر تر ژره هغه یو نوی ښوونځی ومومئ. مونږ دا 'د تعلیمي کال په ترځ کې' غوښتنلیک بولو.

موږ په کلکه سپارښتنه کوو چې تاسو مخکې له دې چې تاسې د خپل هوټل یا خدمت شوي استوګنځي څخه بلې سیمې ته لاړشئ د نوي ښوونځي په لټه کې شئ – او ژر تر ژره غوښتنلیک ورکړئ – ځکه چې کله چې وخوځیږئ دا کار امکان لري دغه پروسه ګړندۍ کړي.

تاسې کولی شئ د لاندې ویب پاڼې د پوسټي کود په برخه کې د خپل نوي کور د پوسټي کوډ په ټایپولو سره خپله نوې شورا ومومئ: https://www.gov.uk/find-local-council

د مشورې لپاره د شورا د شاملولو ټیم ته ټیلیفون وکړئ یا ور ته بریښنالیک ولیږئ. شورا به تاسو ته خبر درکړي چې کله ژر تر ژره تاسې د شورا د شمولیت غوښتنه کولی شئ او داچې ایا تاسو په مستقیم ډول شورا ته خپله غوښتنه ورکوئ یا داچې تاسې باید د دې پرځای ښوونځیو ته خپله غوښتنه وړاندې کړئ. ښوونځي نشي کولی ستاسو له خوځیدو څخه مخکې ځایونه خوندي کړي، خو دوی کولی شي ستاسو د حرکت څخه دمخه د ښوونځي په ترځ کې غوښتنلیکونه ترلاسه او پروسس کړي.

که څه هم ځینې ښوونځي به په ټول کال کې ځایونه ولري، ستاسو د ښوونځي انتخاب ممکن محدود وي. دا ځکه چې ځینې خورا مشهور ښوونځي به دمخه ډک وي کله چې تاسو د کال په منځ کې د ځای لپاره غوښتنه کوئ. شورا باید تاسو ته مشوره درکړي چې کوم ښوونځي ځایونه لري.

چیرې چې ستاسو ماشوم سخت ځانګړي تعلیمي اړتیاوې لري، یوځل چې تاسو د هوټل یا خدمت شوي استوګنځي څخه د وتلو په حال کې یاست او پوه شئ چې تاسو چیرته ځئ، د نوي شورا په سیمه کې د ځانګړي تعلیمي اړتیاو د ټیم سره اړیکه ونیسئ ترڅو چې تاسو ته د راتلونکو ګامونو په اړه مشوره درکړي.

تاسو معمولا د انټرنیټ د لټون له لارې په هره شورا کې د اړونده ټیم لپاره اړیکې موندلی شئ.

## دویمه برخه: د ښوونځي د ځای موندل کله چې ستاسو ماشومان د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په لومړۍ نیټه ۴ یا ۱۱ کلن وي

- **د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ ۱۵مه** – دا د لومړنیو یا کوچنیو ماشومانو د ښوونځي لپاره د ۴ کلنو ماشومانو د غوښتنلیکونو د سپارلو وروستۍ نېټه ده چې د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې په زده کړې پیل کوي؛
- **د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر ۳۱مه** – دا د ثانوي ښوونځي لپاره د ۱۱ کلنو ماشومانو د غوښتنلیکونو د سپارلو وروستۍ نیټه ده چې د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې په زده کړې پیل کوي.

د دې ماشومانو غوښتنلیکونه به د هغې سیمې شورا چې تاسې په کې ژوند کوئ، پروسس کړي.

هره شورا به په خپل ویبسایت کې د 'ښوونځي د شاملیدو' یا د 'ښوونځیو' د ویپاڼو لاندې تاسو ته دا تشریح کړي چې تاسې څنګه د ښوونځي د ځای لپاره غوښتنه کولای شئ.

تاسې خپلې کورنۍ شورا ته د عمومي غوښتنلیک په فورمه کې د ځایونو غوښتنه کوئ. شورا به دا فوررمه په خپله ویبپاڼه کې د 'ښوونځي د شاملیدو ' یا 'ښوونځیو' په برخه کې خپرې کړي.

تاسو کولی شئ په فورمه کې د ښوونځي لږترلږه ۳ انتخابونه وټاکئ او د هغې شورا په سیمه کې چې تاسې هغې ته ورځئ د ښوونځیو لپاره غوښتنه وکړئ، او تاسې کولی شئ په همدې فورمه کې د ګاونډیو شوراګانو په سیمو کې هم د ښوونځیو غوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ د هر ښوونځي لپاره غوره توب څرګند کړئ، خو په عمومي توګه، هر څومره چې یو ښوونځی ستاسو کور ته نږدې وی، تاسو ته د ځای د ورټاندیز کولو ښه چانس شتون لري. په هرصورت، دا د هر ښوونځي په مورد کې صدق نکوي. په انټرنیټ کې د ښوونځي لټول او د هغې د شاملیدلو خپاره شویو ترتیباتو ته کتل باید ستاسو سره مرسته وکړي چې وګوري چې آیا ستاسو ماشوم ته به د ځای وړاندیز وشي او که نه. د تاسو کورنۍ شورا به تاسو ته ستاسو د غوره شویو ښوونځیو د لیست څخه ترټولو غوره موجود لومړیتوب وړاندې کړي. دا شورا به تاسو ته د ملي وړاندیز په نیټه یو بریښنالیک یا یو لیک ولیږي.

د ملي وړاندیز نیټې په لاندې ډول دي:

- **د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۱۶مه** – د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې د ۴ کلنو ماشومانو لپاره د ابتدائیه ښوونځي ځایونه؛
- **د ۲۰۲۴ کال د مارچ لومړۍ نیټه** – د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې د ۱۱ کلنو ماشومانو لپاره د ثانوي ښوونځي ځایونه.

که تاسو ته ستاسې د خوښې د ښوونځۍ کوم وړاندیز و نه شي کیدای، شورا به ستاسو ماشومانو ته ستاسې د کور په نږدې ښوونځي کې چې خالي ځایونه لري، ځای درکړي.

# دریمه برخه: په ښوونځي کې د شاملیدو په اړه عمومي معلومات

## ماشومانو ته د ښوونځي ځایونه څنګه ټاکل کیږي

هر ښوونځی یو محدود شمیر ځایونه لري. که چیرې د شته ځایونو په پرتله ډیر غوښتنلیکونه شتون ولري، د ښوونځي د شمولیت اداره باید د ښوونځي د شمولیت خپاره شوي داخلي قواعد پلي کړي ترڅو معلومه کړي چې کومو ماشومانو ته به ځای ورکړل شي. په دې شرایطو کې به ځینو ماشومانو ته د دوی د والدینو غوره ځای وړاندې نه شي.

## هغه معلومات چې د شمولیت چارواکي یې کیدای شي د ښوونځي د ځای د وړاندیزولو نه وړاندې وغواړي

ښوونځي ته د شمولیت چارواکي کیدای شي ستاسې د غوښتنلیک سره یوځای ستاسې د پتې ثبوت وغواړي. دا مهمه ده ځکه چې ځینې ښوونځي هغو ماشومانو ته د ځای لومړیتوب ورکوي چې ښوونځي ته نږدې ژوند کوي (چې د 'نږدې ساحو' په نوم یادیږي) او د کور څخه ښوونځي ته واټن هم اکثرا د دې لپاره کارول کیږي تر څو چې معلومه کړي چې د دوو یا ډیرو ماشومانو تر منځ کوم ماشوم ته د ښوونځي له خوا د یوه ځای وړاندیز وشي کله چې په ښوونځي کې د وړاندیزولو لپاره وروستۍ ځای پاتې شوۍ وي.

خو که تاسې د خپلې پتې کوم مدرک هم ونلرئ، بیاهم ښوونځي ته د شمولیت اداره باید ستاسې غوښتنلیک پروسس کړي. خو که چیرې د زده کوونکي د کور پته د هغه ښوونځي د شمولیت په قواعدو کې چې تاسو یې غوښتنه کوئ مهم رول ولوبو، ممکن ستاسې ماشوم ته د شمولیت لپاره ټیټ لومړیتوب ورکړي.

هغه ښوونځي چې مذهبي نوم لري کیدای شي مذهب لرونکي ماشومانو ته د ځایونو په ورکولو کې لومړیتوب ورکړي. د دې ښوونځیو د شمولیت چارواکي کیدای شي ستاسو څخه وغواړي چې د غوښتنلیک یوه اضافي فورمه ډکه کړی ترڅو معلومه کړي چې تاسو د یوې اړونده عقیدوي ډلې غړی یاست، او پدې توګه دوی وکولای شي ماشومانو ته د دوی د عقیدې پر بنسټ د ځایونو د لومړیتوب حق ورکړي.

د عقیدې د غړیتوب او عمل لپاره عام اقدامات دادي: په ایمان باندې تعمید (چې عموما د رومان کاتولیک د مذهب په ښوونځیو کې کارول کیږي) یا په کلیسا، معبد، جومات یا سیناګوګ کې حاضریدل – چې د ښوونځیو د عقیدې په ټاکلو پورې اړه لري.

د ښوونځي د شمولیت اداره نشي کولای د ښوونځۍ د شمولیت د پروسې په ترڅ کې ستاسو د ماشوم یا کورنۍ په اړه د شخصي معلوماتو غوښتنه وکړي، لکه د ماشوم د ښوونځي ریکارډ، پاسپورټ یا د کډوالۍ نور کاغذونه. د دې قاعدې یوازینې استثناوې دا دي:

- کله چې ماشوم د شورا تر پاملرنې لاندې وي یا پخوا تر پاملرنې لاندې وو، د ښوونځي د شمولیت اداره کولای شي د دې د ثبوت غوښتنه وکړي. دا ماشومان هر ښوونځي ته د شاملیدو لپاره لومړیتوب لري؛ یا
- شواهد شتون لري چې دا کورنۍ د اړونده مذهب پیروي کوي یا د یوې اړونده مذهبي ډلې غړې ده، په داسې ښوونځي کې شاملیږي چې مذهبي نوم ولری؛ یا
- آیا د ماشوم کورنۍ د زده کووني د ښوونځي د شمولیت د لګښت په غاړه اخیستلۍ شي ځکه چې کورنۍ یې ټیټ عاید لري، مګر داچې ښوونځي دا ډول ماشومانو ته د شمولیت لومړیتوب ورکړي.

کله چې د ستاسو د ماشوم لپاره د ښوونځۍ له خوا د یو ځای وړاندیز وشي ممکن ستاسو د ماشوم د زیږون د نیټې د ثبوت غوښتنه وکړي، خو نشي کولای دغه ځای یوازې په دې دلیل چې ماشوم د زیږیدنې هیڅ ثبوت نه لري، رد کړي.

## کله چې تاسو ته ستاسو د خوښې په ښوونځي کې ځای نه درنکړل شي تاسو به څه وکړئ؟

په ځینو مواردو کې، کیدای تاسو ته د تاسو په ټاکل شوي ښوونځي کې ځای درنکړل شي.

که تاسو ته په ښوونځي کې ځای درنکړل شي، تاسو کولای شئ د ښوونځي د شمولیت د ادارې څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو ماشوم د ښوونځي د انتظار په لیست که شتون ولري ونیسي. په دې لست کې به ماشومان د غوښتنلیک د ترلاسه کولو د نېټې پر بنسټ نه بلکه د ښوونځي د شمولیت د خپور شویو قواعد سره سم درجه بندي کړي. دا پدې مانا ده چې کیدای شي ستاسې د ماشوم موقعیت د انتظار په لیست کې د وخت په تیریدو سره پورته یا ښکته شي.

تاسو باید هیڅکله په دې دلیل چې ستاسو ماشوم د ښوونځي د انتظار لیست کې دی، په بل ښوونځي کې ځای رد نه کړئ: که ستاسو ماشوم ته وروسته په لومړي ښوونځي کې، چیرته چې هغه د انتظار په لیست کې دی، د ځای وړاندیز وشي تاسو به په هغه وخت کې وکولای شئ ښوونځي بدل کړئ. همدارنګه تاسې کولای شئ خپل ماشوم ته په ښوونځي کې د ځای ورکولو د وړاندیز د هر ډول انکار پر وړاندې دعوی وکړئ.

کله چې تاسې ته یو ځای درنکړل شي، باید د ښوونځي د شمولیت اداره تاسې ته د استیناف فورمه درکړي او تاسو ته ووایي چې څنګه دا فورمه ډکه کړئ. د استیناف هیئت د ښوونځي د ادارې څخه خپلواک دی.

د استیناف د پروسې په اړه د والدینو لپاره لارښود [دلته](#) ترتیب شوی دی. تاسو کولی شئ له یو چا څخه وغواړئ چې په استیناف کې ستاسو استازیتوب وکړي یا تاسو کولی شئ خپله دعوا پخپله وړاندې کړئ. استیناف به په پام کې ونیسي چې ایا د ښوونځي د شمولیت اداره سمه وه چې ستاسو ماشوم ته یې یو ځای نه دی ورکړی او داچې ایا د تاسو د دې ځای د اړتیا دلیلونه د شمولیت د ادارې د انکار کولو د دلایلو څخه بااهمیته دي. که چیرې د استیناف هیئت ستاسو غوښتنه تایید کړي، ښوونځی باید ستاسو ماشوم ومني.

دا ډول استینافونه په مجازي توګه (د ټیمونو یا زوم او نورو لخوا) او همدارنګه په حضوري توګه ترسره کیدی شي.

## د ښوونځي غوره کول

یو شمیر سرچینې شتون لري چې والدین کولی شي د دوی سره د ښوونځي په غوره کولو کې مرسته وکړي.

تاسو کولی شئ خپل کور ته نږدې ښوونځي په دې ځای کې وپلټئ: ['د ښوونځیو په باب معلومات ترلاسه کړی'](#). تاسې کولای شئ خپل لټون د خپلې پټې څخه تر ښوونځي پورې د واټن په کتلو او همدارنګه د ښوونځي د ډول له مخې فلټر کړئ.

هره شورا په خپله ویب پاڼه کې ښوونځي ته د شمولیت په اړه لارښود او د ټولو محلي ښوونځیو لیست هم خپروي.

تاسې کیدای شي دا ګټور ومومئ چې [د ښوونځیو د فعالیت د پرتله کولو په ویب پاڼې](#) د هغو ښوونځیو فعالیت پرتله کړی کوم چې تاسو یې په پام کې لرئ. د پرمختګ ۸ شمیره دا اندازه کوي چې ماشومان ثانوي ښوونځي ته د شاملیدلو او ختمیدو تر منځ په ۸ مضمونونو کې څومره پرمختګ کوي. په لوستلو، لیکلو او ریاضی کې د پرمختګ نمرې د لومړنیو ښوونځیو لپاره ورته اندازه ده.

که تاسو غواړئ دا په ډیر تفصیل سره وګورئ، یوازې تر ټولونوي ښوونځي به د آفسټډ تفتیش راپور ولري، او تاسو کولی شئ دا په دې [ویب پاڼه](#) کې وپلټئ.

## د شپږم فورم ځای لپاره درخواست ورکول

د شپږم فورم زده کړه معمولا د ۱۶ کلنو او تر هغه پورته ځوانانو لخوا ترسره کیږي. د ۱۶مې زده کړې څخه وروسته تحصیل د لاندې مراجعو لخوا وړاندې کیږي:

- ځینې ښوونځي؛
- ۱۶-۱۹ اکاډمۍ؛
- شپږم فورم کالجونه؛ یا
- د نورو زده کړو کالجونه.

د ملي مسلک خدمت یوه ویب پاڼه لري چې دا تاکي چې د ۱۶ څخه وروسته کوم کورسونه د انفرادي ښوونځیو او کالجونو لخوا وړاندې کیږي. که ستاسو ماشومان لا دمخه د ۱۶ څخه وروسته کورسونو کې زده کړه کوي، تر هغه ځایه پورې چې دوی کولای شي کالج یا شپږم فورم ښوونځي ته دوام ورکړي، دوی اړتیا نلري یوازې په دې دلیل چې تاسې د سیمې څخه وزئ بل ښوونځي یا کالج ته نقل مکان وکړي.

شوراګانې په ندرت سره د شپږم فورم ځایونو په تخصیص کې (د بیلګې په توګه د ۱۶ کلنو ځوانانو لپاره ځایونه چې د ۱۹ کلنۍ څخه ټیټ وي) مستقیم رول لوبوي. په هرصورت، ځینې شوراګانې به والدینو ته د هغو ښوونځیو په اړه مشوره ورکړي چې د دوی په شپږم فارم کې خالي ځایونه لري. له همدې امله تاسو کولی شئ د خپلې شورا سره اړیکه ونیسئ او پوښتنه وکړئ چې چیرې خالي ځایونه شتون لري. خو په یاد ولرئ چې د ښوونځي شپږم فورم د ۱۶ څخه وروسته زده کړې یوازینۍ چمتو کونکۍ ډول ندئ.

د 'ښوونځیو په اړه معلومات ترلاسه کړئ' ویب پاڼه به تاسو ته وښیي چې کوم محلي ښوونځي د ۱۶-۱۸ کلنو ځوانانو لپاره ځای چمتو کوي. بیا تاسو باید د دوی په ویب پا ڼو کې د غوښتنلیک د څرنګوالي او د غوښتنلیکونو لپاره نیټې ولټوئ.

ډیر ځایونه د ښوونځي د کال له پیل څخه دمخه تخصیص کیږي. همدا قاعده په نورمال ډول د شپږم فورم په کالجونو او ۱۶-۱۹ اکاډمیو کې پلي کیږي، خو د نورو زده کړو کالجونه احتمالا د کورس په شتون پورې اړه لري چې د ټول کال په اوږدو کې ځایونه وړاندیزوي.

## د دولت لخوا د تمویل شوي ښوونځیو ډولونه

په انګلستان کې د دولتي تمویل شوي ښوونځیو پراخه لړۍ شتون لري. هغه څه چې د دوی په ټولو کې مشترک دي دا دي چې دوی به ستاسو د ماشومانو لپاره پراخه او متوازن تعلیم وړاندې کړي، که څه هم د پوهنتون تخنیکي کالجونو (UTCs) او د سټوډیو ښوونځي، په عمده توګه د ۱۴ کلنو او پورته ماشومانو لپاره، د حرفوي پلوه یو شمیر زده کړې وړاندې کوي.

۱۶۳ ګرامر ښوونځي، هغه ثانوي ښوونځي دي کوم چې یوازې د خورا اکاډمیک وړ ماشومانو لپاره تعلیم وړاندې کوي. ستاسو ماشومان دغو ښوونځیو ته د شاملیدو لپاره باید په ازموینه کې بریالي شي. دا د انفرادي ښوونځي، یا شورا د شمولیت د اداري له خوا اداره کیږي. هره سیمه د ګرامر ښوونځی نلري.

د ثانوي ښوونځي تر ټولو عامه بڼه (نږدې ۳۱۰۰) جامع ښوونځي دي. دوی د ټولو وړتیاوو ماشومانو ته روزنه ورکوي. هر یو (یوازې د ۱۷۰۰۰ څخه کم) لومړني ښوونځي د ټولو وړتیاوو ماشومانو ته تعلیم ورکوي.

ځینې ښوونځي کیدای شي مذهبي نوم هم ولري او کیدای شي د دوی د عقیدې یا ډیرو نورو عقایدو ماشومانو ته د نورو ماشومانو په پرتله د شاملیدو لپاره لومړیتوب ورکړي. تاسو باید د دوی ویب پاڼې وګورئ.

## د ښوونځي د شامليدو چارواکي

پداسي حال کې چې د ابتدائيه او ثانوي ښوونځيو غوښتنليکونه د پورته ذکرشويو نيټو سره سم شورا ته وړاندې شوي دي، هغه غوښتنليکونه چې د کال په ترڅ کې رامينځته کيږي، په اکثرو سيمو کې بايد نيغ په نيغه د ښوونځي د شامليدو ادارې ته وړاندې شي. دا ادارې کومې دي:

| **ډول** | | **د داخلي واک** |
|---|---|---|
| د ټولنې ښوونځي<br>(نږدې ۵۹۰۰ ښوونځي) | | شورا،<br>د دوی په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات. |
| د بنسټ ښوونځي<br>(نږدې ۷۰۰ ښوونځي) | | کنټرول کوونکي اداره،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |
| داوطلبانه کنټرول شوي ښوونځي<br>(له ۱۶۰۰ څخه ډير ښوونځي) | | شورا،<br>د دوی په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات. |
| رضاکارانه مرسته شوي ښوونځي<br>(له ۲۵۰۰ څخه ډير ښوونځي) | | کنټرول کوونکي اداره،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |
| اکاډمۍ ښوونځي<br>(نږدې ۹۰۰۰ ښوونځي) | | د اکاډمۍ باوري اداره،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |
| وړيا ښوونځي<br>(نږدې ۵۰۰ ښوونځي) | | د اکاډمۍ باوري اداره ،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |
| د سټوډيو ښوونځي<br>(له ۲۰ څخه ډير ښوونځي) | | د اکاډمۍ باوري اداره ،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |
| UTC (نږدې ۵۰ ښوونځي) | | د اکاډمۍ باوري اداره ،<br>د ښوونځي په ويب پاڼه کې د اړيکو توضيحات |

**© د کراون د ۲۰۲۳ کال کاپي حق**

دا خپرونه (چې لوګو پکې نه شامليږي) د پرانيستې حکومتي جواز د دريم ورژن د شرايطو پربنسټ جواز لري مګر داچې بل ډول ويل شوي وي. څرنګه چې موږ د دريمې ډلې د کاپي حق معلومات پيژندلي دي تاسو به اړتيا ولرئ د اړونده کاپي حق لرونکو څخه اجازه ترلاسه کړئ.

**د دې جواز د ليدلو لپاره لاندې مراجعو ته مراجعه وکړئ:**

ويبسايت: www.nationalarchives.gov.uk/doc/open-government-licence/version/3

بريښناليک : psi@nationalarchives.gsi.gov.uk

ليک واستوئ: Information Policy Team, The National Archives, Kew, London, TW9 4DU

**د دې خپروني په اړه:**

پوښتنې : www.education.gov.uk/contactus

دانلود : www.gov.uk/government/publications

**ريفرنس** : [000-000-000]

موږ په ټويټر کې تعقيب کړئ : @educationgovuk

موږ په فيسبوک کې خوښ کړئ: facebook.com/educationgovuk